# قریش

**مکی سورة دی ۴ آیتونه لری**

**بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

لِإِيلَٰفِ قُرَيۡشٍ ١

**قریش باید د هغې مینې له امله( د الله تعالی شکر اداء کړی چې دوی یې له سرګردانیو نه وروسته راټول او په زړونو کې یې ورله خپل منځی مینه پیدا او هم یې له تجارتی سفرونو سره روږدی کړل).**

إِۦلَٰفِهِمۡ رِحۡلَةَ ٱلشِّتَآءِ وَٱلصَّيۡفِ ٢

**(له هغو سفرونو سره) مینه، چې په دوبی کې( د شام او فلسطین سړو سیمو) او په ژمی کې( جنوبی تودو سیمو ته تجارتی) سفرونه کوی.**

فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ٣

**نو باید( د دغه لوی نعمت او فضل د شکریې د اداء کولو لپاره) د دې کور( کعبې شریفې) د رب عبادت وکړی.**

ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ ٤

**هغه رب چې دوی یې له ولږې وژغورل او( د د ښمن د حملو له ویرې یې) خلاص او مصؤون کړل.**

**« تمت سورة قریش بفضل الله و رحمته»**

**======================**